بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## ولي سعودي رژیم ایران د یهودي دولت او امریکا متحده ایالاتونو په پرتله د تروریزم اصلي جرړه ګڼي؟



**خبر:**

د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر پر نړیوالې ټولنې ږغ وکړ، چې د ترهګرۍ د ملاتړي هیواد په توګه دې پر ایران نوي نړیوال بندیزونه ولګول شي. د تهران او ریاض ترمنځ اوسنۍ لفظي شخړه په سیمه کې د تاوتریخوالي لامل شوې.
د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر عادل الجبیر له سي اېن بي سي(**CNBC**) امریکایي تلویزیوني شبکې سره په مرکه کې چې تېره اونۍ خپره شوه، وویل: « ایران د ترهګرۍ لومړۍ ملاتړی هیواد دی ». ده ایران د بالیستکي توغندیو د پروګرام د پراختیا او په لبنان کې د شیعه مېشتې ډلې حزب الله د ملاتړ له امله وغنده. (سرچینه: الجزیره، ۲۰۱۷م نومبر ۱۱مه )

**تبصره:**

د سعودي هغه ادعا چې ایران د ترهګرۍ ملاتړی بولي، په داسې حال کې چې د یهودي دولت په اړه بیا چوپه خوله دی. ایا دا په دې مانا ده، چې ایران ترهګرۍ ته پراختیا ورکوي او صهیونېست رژیم یې نه ورکوي؟
سل کاله وړاندې تر بالفور اعلامیې ورسته، چې د ۱۹۱۷م کال د نومبر پر دویمه خپره شوه، پر بنسټ یې صهیونېست رژیم ته اجازه ورکړه شوه، چې اسلامي خاوره ونیسي. ایا کله د سعودي یا مصر حاکمانو هڅه کړې چې فلسطین ازاد کړي؟ له هغه راهیسې چې زیات شمېر مسلمانان وژل کېږي، ترور کېږي، په سبرا- شاتیله پنډغالي کې قتل عام کېږي، ځمکې یې غصبکېږي، مسجد الاقصی ته له ننوتلو څخه منع کېږي او داسې نور ډېر جرمونه یې چې پر وړاندې تر سره کېږي؛ ایا دا ترهګریز عملونه نه دي؟ ولې د سعودی رژیم د یهودي دولت پر وړاندې د ورته نړیوالو بندیزونو وړاندیز نه کوي؟ ایا دا نه په ډاګه کوي، چې د سعودي رژیم د یهودي دولت ملګری دی او هغه یو ترهګر دولت نه ګڼي؟ له بل لوري سعودي رژیم ولې د هغو ځمکنیو او هوایي بریدونو په اړه، چې د امریکا متحده ایالاتونو له لوري پر اسلامي خاورو لکه: عراق او افغانستان کې تر سره کېږي او پکې زیات شمېر ملکیان وژني، څه نه وایي؟.
پر دې سر بېره یهودي دولت په لبنان کې څومره زیات شمېر خلک له سترو ګواښونو سره مخ کړي دي او همدارنګه د بشار رژیم نور څومره زیاته اندازه سوني مسلمانان وژني؟ ایا سعودي رژیم د یادو خونړیو پېښو په اړه کومه ورځ خپل غبرګون وښود؟ برعکس د قطر له لوري کوم ترهګریز ګواښونه دي، چې د سعودي رژیم ترې وېرېږي؟
جګړه به په منځني ختیځ کې تر هغې روانه وي، چې مسلمان حکام له کفارو سره ورورولۍ ولري، د متحده ایالاتونو نیابتي جګړه پر مخ یوسي او د پالیسیو په پلي کولو کې یې مرسته وکړي.
په دغې سیمه کې بې ثباتي لا له وړاندې پلان شوې ده او شخړې په قصدي توګه په لاره اچول کېږي، ځکه چې امریکا د وسلو له پلورلو څخه په میلیونونه ډالر تر لاسه کوي، د دې تر څنګ غواړي اقتصاد یې پراخ شي او جوړې کړې وسلې یې وازمایي. په ورته وخت کې دوی خلکو ته د اسلام غلط انځور وړاندې کوي او د مسلمانانو د یووالي مخه نیسي.  په حقیقت کې د ایران پر وړاندې پلان هغه دی، چې ډونالډ ټرمپ د ملګرو ملتونو په عمومي سرمشریزه کې د ۲۰۱۷م کال د سپټمبر

پر ۱۹مه په خپله وینا کې بیان کړ: « د ایران رژیم له ترهګرۍ څخه ملاتړ کوي په داسې حال کې چې ګاونډیانو یې ژمنه وکړه، چې د ترهګرۍ پر وړاندې به جګړه کوي او د هغه تمویل به بندوي، چې د دوی ترمنځ دا یو څرګند توپیر دی. د تېر کال په سر کې په سعودي عربستان کې ما تر ۵۰ ډېرو عربې او اسلامي مشرانو ته وینا وکړه او موږ هوکړه وکړه، چې ټول ځواب ورکوونکي ملتونه به ګډ کار کوي، ترڅو د ترهګرۍ او اسلامي سختدریځی، چې د ترهګرۍ د رامنځ ته کېدو لامل کېږي، له منځه یوسو». (سرچینه: whitehouse.gov)

**ای د سعودي مسلمانانو!** د سعودي حکام چې په وینا یې له کورني فساد سره مبارزه کوي، دوی په خپله تر نورو ټولو ډېر په فساد کې ښکېل دي. دوی د مسلمانانو وینه او مال له کفارو څخه د درنښت لاسته راوړلو په بدل کې پلوري. دوی د خپلو شخصي ګټو د لاسته راوړلو په موخه کفار، چې د الله سبحانه و تعالی او د مسلمانانو دښمنان دي په دوستۍ سره نیولي.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾**

[المائده: ۵۱]

ژباړه: اې مومنانو! یهودیان او عیسویان خپل ملګري مه نیسئ، دوی په حقیقت کې یو د بل ملګري دي او که له تاسو څخه څوک هغوی خپل ملګري نیسي، نو په حقیقت کې هغه هم له هغوی څخه دی او الله سبحانه و تعالی ظالمانو ته لارښوونه نه کوي.

موږ په تل پر دوی ږغ کوو، چې سمې لارې ته راشئ.

**سَيِّدُ الشُّهَدَاءِ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَرَجُلٌ قَالَ إِلَى إِمَامٍ جَائِرٍ فَأَمَرَهُ وَنَهَاهُ فَقَتَلَهُ وَاللَّهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَيِ الظَّالِمِ، وَلَتَأْطُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا، وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا**

هغه چا ته به د شهیدانو د سردار، حمزه (رض) درجه ورکول کېږي، چې د ظالم حاکم پر وړاندې حق وینا کوي، هغه ښو کارونو ته امر او له بدو څخه یې منع کوي؛ خو هغه نوموړی ووژني. رسول الله ﷺ خبرو ته دوام ورکړ او ویې فرمایل:

قسم په الله چې تاسو به په نېک کار امر کوئ او له بدو څخه به منع کوئ، د ظالم حاکم پر وړاندې به درېږئ، سمې لارې ته به یې په زور سره راولئ او یا به یې لږ تر لږه حق ته نژدې کوی...)) (مسند امام احمد)

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال:احمد یوسف**

**۱۴۳۹هـ.ق، د صفر ۲۶مه**

**۲۰۱۷م، د نومبر ۱۵مه**

**ژباړن: صدیق احمد زی**